PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګوری چې الله پاک د ځمکې ټول خیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینګ نیولی چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه رانیریوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډیر مهربان او ډیر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړئ بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. رښتیا هم چې انسان ډیر ناشکره دی. (سورة الحج: ۶۵ - ۶۶ آیتونه)

درس حدیث

انس رضی الله عنه می گوید: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود:
به برادرت چه ظالم باشد و چه مظلوم، کمک کن. اصحاب گفتند: ای رسول خدا! کمک به مظلوم، روشن است ولی چگونه به ظالم کمک کنیم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: دست او را بگیرید و از ظلم کردن، باز دارید. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۰۵ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د غويي ۱۱ مه د۱۴۳۴ هـ ق د جمادی الثانی ۲۱ مه د۲۰۱۳ م د مې لومړی

استخبارات بریتانیا هم به دفتر رئیس جمهور کرزی پول داده است

مقام کلیدی که در تقسیم یا توزیع پول در شورای امنیت ملی افغانستان دخیل بوده، ابراهیم سپین زاده، یا انجنیر ابراهیم یک راز دار نزدیک حامد کرزی است.

کابل، رسانه ها:
در یک گزارش اخیر روزنامهء نیویارک تایمز نوشته شده، ادارهء استخبارات امریکا CIA خریطه های پول نقد را منظماً به دفتر رییس جمهور کرزی تسلیم داده است. رییس جمهور افغانستان نیز درجریان سفرش به فنلند به گرفتن پول نقد اعتراف نموده ، گفت، از مدت ده سال به اینسو، این پول ها به شورای امنیت ملی افغانستان تسلیم داده شده است.
روزنامهء گاردین چاپ انگلستان می نویسد، ادارهء استخبارات انگلستان (MI6) هم به طور منظم یک مقدار پول نقد را به دفتر ریاست جمهور افغانستان تسلیم داده است و هدف آن نفوذ و دسترسی به رییس جمهور کرزی و حلقات بلند پایهء دور وپیش او می باشد.
اما برخی تحلیلگران و دیپلومات های سابق می گویند، اکثراً این تلاش ها برای تامین نفوذ ناکام شده...

بقیه در صفحه ۴

سعیدي: د طالبانو نوي عملیات د پاکستان د لوی درستیز له ګوابښ سره تړلي دي

حامد کرزي سره په بروکسل کې د پاکستان د لوی درسیز خبرې ګواښوونکې او تندې وې، کیاني ولسمشر کرزي ته ویل: پام دې وي چې په افغانستان کې د جګړې نوی فصل پیلیږي

کابل، رسنۍ:
ځینې افغان چارواکي وایي چې، له جمهور رییس حامد کرزي سره په وروستي غونډه کې د پاکستان د لوی درسیز خبرې ګواښوونکې او تندې وې او د طالبانو له خوا د تازه عملیاتو پیلیدل له دې ګواښ سره تړلي دي.
یوه جګپوړي افغان چارواکي د نوم د نه خبریدو په شرط ازادي راډیو ته وویل چې په بروکسل کې په وروستی درې اړخیزې غونډه کې د پاکستان لوی دستیز اشفاق کیاني په ځپلې ګواښوونکې لهجې غوښتل چې جمهور رییس حامد کرزی تر تاثیر لاندې راولي.
دغه چارواکي وویل، ښاغلي کیاني جمهور رییس ته وویل:...

پاتې ۴ مخ

(۷ و ۸) کمونیزم و اسلام

(نورن غلام سخی) - صفحه دوم

دثور ۷ مې کودتا د یو لړ شاندارو مراسمو په ترڅ کې وغندل شوه

دننګرهارولایت په سیمه ییز دفتر کې د ۱۳۵۷ ل کال د ثور اوومې کرغیړنه کودتا دیو لړشاندارو مراسمو په ترڅ کې وغندل شوه.
غونډه په ننګرهار ولایت کې دحزب اسلامي د اناثو په ساحوي دفتر کې د شنبې په ورځ سهار نهه بجې دغلام علي سالار په وياندوی او دننګرهار پوهنتون داستاد قاري همایون په تلاوت پیل شوه.
په یاده غونډه کې دننګرهار ولایت دیلا بیلو ولسوالیو په سلګونو علمای کرامو، مجاهدینو، قوماندانانو او قومي مخورو برخه اخیستې وه. د غونډې لومړی ویناوال دحزب اسلامي ولایتي مسؤول استاد عبدالعلی و،...

پاتې ۳ مخ

قانون تشکیل و صلاحیت های کمیسیون انتخابات هرچه زودتر توشیح شود

اعضای هر دو مجلس در خصوص حضور و یا عدم حضور دو عضو خارجی در کمیسون شکایات انتخاباتی اختلاف نظر داشتند

کابل، رسانه ها:
شورای همکاری احزاب و ایتلاف های سیاسی افغانستان خواهان توشیح هر چه زودتر قانون تشکیل و صلاحیت های کمیسون انتخابات شده است. این شورا از دولت افغانستان می خواهد تا مطابق به قوانین نافذهء کشور عمل نموده و مسوولیت های خود را در تمام عرصه ها ادا نماید...

بقیه در صفحه ۴

په کونړ ولایت کې د حزب اسلامي ولایتي ټاکنې ترسره شوې

دثور په پینځمه دحزب اسلامي افغانستان دمرکزي دفتر یو پلاوې کونړ ولایت ته تللې و چې پدې ولایت کې دحزب اسلامي فعالیتونه له نږدې وګوري.
یادپلاوې چې داجرایه شورا دغړي او ولایتي مسؤول الحاج مدیر سیدرحمان واحدیار په مشری کونړ ته تللی و دحزب اسلامي افغانستان له اعضاو او منسوبینو سره له نږدې وکتل او په کونړ ولایت کې یې دحزب اسلامي له فعالیتونو ستونزو او بریاو خان خبر کړ، یاد پلاوې په کونړولایت کې

پاتې ۳ مخ

د هلمند ولایتي دفتر کې د ثور د ۷مې کودتا وغندل شوه

د ۱۳۹۲ ل کال د ثور په (۷مه) نیټه د هلمند ولایت د حزب اسلامي افغانستان په ولایتي دفتر کې د ۱۳۵۷ کا ل د ثور د (۷مـه) د کمونستانو د کرغیړني کودتا غندنه وشوه، ...

پاتې ۴مخ

د علم او عرفان یوه بله ډیوه هم مړه شوه

اروانباد پوهندوی وسیع الله سیار

د کابل پوهنتون استاد، د اسلامي نهضت سپاهي، د حق دلارې سرلاري مجاهد او مربي پوهندوی وسیع الله سیار هم دڅونه له پیتي اوږې سپکې کړې او دابدي ژوند ملګری شو.
اروانباد پوهندوی وسیع الله سیار دمرحوم ملک امین الله خان په څیرد یوه اولسي اوقومي جوادمشر په درانه کاله کې په ۱۳۲۷ ل کال کې دکامې په ملکانو کلي کې سترګې پرانیستې . دخپلې کورنی اودینې چاپیریال په رڼا کې یې لومړنی دینې زده کړې دخپل کلي دجوماتو له استادانو وکړې، دتعلیمي دوده مخې په اوه کلنۍ کې داخونکلي په لومړني ښوونځي کې رسمي زده کړه پیل کړه په ۱۳۴۳ ل کال مرادعلي لیسې ته دلومړني ښوونځي ترارتقا وروسته دمراد علي لیسې دلومړنۍ دورې دفارغ په توګه په ۱۳۴۶ ل کې وپیژندل شو. لوړې زده کړې یې د کابل په عالي دارالمعلمین کې پیل کړې . په ۱۳۴۸ کې ترې تر فراغت وروسته د کابل دځرخي پله اوقلعه چې په ښوونځیو کې استاد ومنل شو ترکال دوه تدریس وروسته دخپلې علمي اوپوهنتوني تندې دخړوبولو په هیله د کابل پوهنتون دادبیاتو

پاتې دریم مخ

در سال ۱۳۹۲ نفوس افغانستان به ۵، ۲۷ میلیون تن رسید

کابل، رسانه ها:
اداره احصاییه مرکزی افغانستان می گوید که پنجصد هزار نفر طی یک سال اخیر به نفوس این کشور افزوده شده است.
به گفته مسوولان این اداره به طور تخمینی هم اکنون نفوس افغانستان به بیست و هفت و نیم میلیون تن می رسد.
عبدالرحمان غفوری رییس اداره احصاییه مرکزی به روز سه شنبه به خبرنگاران در کابل گفت که نفوس تخمینی این کشور را به

بقیه در صفحه ۴

پیام های تبریکیهء شورای ولایتی ولایت بامیان و ولسوالی پغمان ولایت کابل

قراریکه در جریان قرار دارید حزب اسلامی افغانستان معیار تعین شده وزارت محترم جلیلیه عدلیه ج-ا-ا را با داشتن (۲۶) نمایندگی در سطح ولایات کشور تکمیل نموده و در سطح احزاب سیاسی مقام اول را نصیب گردیده است.
این موفقیت را با داشتن پایگاه مردمی، معیاری بودن، مطرح بودن، افغانستان شمول بودن و با حضور گستردهٔ ملیت ها و اقشار مختلف تکمیل نموده که در حقیقت سمبول وحدت و همبستگی ملی ما را نشان میدهد، این پیروزی بزرگ را به تمام متعهدین حزب اسلامی و کافهء ملت نجیب و مسلمان افغانستان تبریک و تهنیت عرض نموده و کامیابی های بیشتر شانرا در جهت تأمین وحدت ملی و استحکام نظام عدل الهی از بارگاه صمدیت استدعا مینمائیم.

(دفتر ولایت بامیان و شورای ولسوالی پغمان)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

فساد د ټولو ستونزو مور

تېره اونۍ د سه شنبې په ورځ برنارد بيژولي چې په کابل کې د فرانسې د سفير په توګه يې د کار دوره پای ته رسيدلې ده، د خپلې خدای پامانۍ په غونډه کې د نړيوالې ديپلوماسۍ هغه عادي لهجه رد کړه چې عموماً له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د بې شميره ستونزو په اړه په احتياط سره خبرې کوي، ده وويل: که څه هم په افغانستان کې د روان ناوړه حالت د يوې برخې مسؤول لويديځ دی خو د ګڼ شمېر خرابيو مسؤوليت په خپله افغانانو ته ور له غاړې دی.

دري شپيته کلن بيژولي پراخ فساد او مخدره مواد هغه دوه غټې ستونزې وبللې چې په افغانستان کې د امنيت او ثبات د ټينګولو لپاره د هڅو په وړاندې يې خنډونه رامنځته کړي، هغه زياته کړه: فساد دا ثابته کړه چې ددې هېواد مشران خپل هېواد ته وفادار نه دي او فساد دی چې د پانګونو مخه نيسي.

د فساد په اړه د بيژولي دغه څرګندونې څکه نشي رديدلې چې لدېنه وړاندې په هېواد کې دننه او باندې هم د پراخ فساد د شتون په اړه په رسنيو کې ډېر تاوده بحثونه شوي او پخپله ولسمشر کرزي هم څو څو ځلي له اداري فساد څخه سر ټکولې دی.

کيدای شي چې په فساد کې ککړ ډيرې دولتي لوړ پوړي چارواکي د بيژولي دا څرګندونې هم د افغانستان په خلاف يو سازش وبولي او د خپلو ځانونو د سپينولو په خاطر دهغه خبرې مغرضانه او د غرب ناوړه پرو پاګنډه وګڼي خو د افغانستان ولس ورباندې څکه نه شي قانع کولې چې هغوی فساد پخپلو سترګو مخکې هم ليدلې او اوس يې همويني چې هره ورځ دهغوی ويني زيبښي.

که له واقعيت نه سترګې پټې نه کړو نو له دې اعتراف پرته بل هېڅ لاره نه لرو چې ووايو: فساد د ټولو ناخوالو مور ده او په کوم هېواد کې چې فساد وي هلته نه امن راتلې شي او نه هم استحکام، نه يو غښتلې پوځ روزلې شي او نه هم پوليس، نه د قانون حاکميت ټينګولې شي او نه هم ملي يووالې.

په حقيقت کې فساد يواځينې لامل دی چې افغانستان يې د ګڼو امکاناتو د لرلو باوجود له يو عالم کړاوونو سره لاس او ګريوان کړې دی، او په هېواد کې دننه او باندې ډول ډول انديښنې او پوښتنې راولاړې کړې دي.

کله چې په يو هېواد کې پراخ فساد وليدل شي او د هر چا په ژبه د فساد خبرې جاري شي نو دا ددې خبرې ثبوت وړاندې کوي چې چارواکي خپل هېواد او ولس ته وفادار نه دي او د ټولو ناخوالو مسؤوليت د همدوی په غاړه دی، خو متأسفانه تراوسه پورې چارواکو خپله ملامتي نه ده منلې، بلکې هر څه د بل چا په اوږو اچوي. که لويديځ په افغانستان کې درغلي کوي له هغو نه د افغانانو ډيره ګيله څکه نه کېږي چې افغانستان دهغوی خاوره نه ده مګر دا چې د افغانستان چارواکي پخپل پلرني هېواد کې فساد او درغلي کوي دا نو په دې معنی ده چې دوی هم افغانستان خپله خاوره نه ګڼي او خپل هېواد او ولس ته وفادار نه دي. دا چې وړاندې هر څه وشول هغه هسې هم شوي دي اوس د راتلونکي په اړه غم پکار دی چې د افغانستان استحکام او ثبات لپاره څه کول پکار دي، هسې لافې شافې، د درواغو وعدې او که ريښتوني اخلاص، صداقت او پياوړې عزم؟! څرګنده خبره ده چې په تشو خبرو او وعدو هېڅ نه کېږي بلکې عملي ګامونه پورته کول غواړي، که د افغانستان مشران واقعاً له خپل هېواد او ولس سره څه مينه او وفاداري لري نو له تېرو کړنو څخه لاس په سر کېدل ورته ضروري دي.

هغه حرام دولت او شتمني يې چې د فساد او درغلۍ له لارې پيدا کړې دي هغه ټول بايد د افغانستان بيت المال ته وسپاري او د ډېرو مودو راهيسې چې کوم ناروا اختلافاتو ته لمنه وهلې په ډېر صداقت ترينه توبه وباسي، چې کله هم چارواکي او واکمنان خپله قبله سمه کړي او د فساد پرځای د هېواد آبادي ورورولۍ، اتفاق، اخلاص، همدردي، صداقت، خدمت او وفاداري ته کلکه ملا وتړي نو له څه شک پرته نه يوازې د افغانستان ولس بلکې د نورې نړۍ وګړي به هم د افغانستان د مشرانو او چارواکو په اړه له خپل هېواد او ولس سره د وفاداري خبرې وکړي، افغانستان به د يو غښتلي پوځ او غښتلي اقتصاد خاوند شي څکه چې د افغانستان خاوره ددې وړتيا لري چې په ډېر لږ وخت کې د خپلو قيمتي ذخايرو او زيرمو پر مټ په اقتصادي او امنيتي لحاظ د خوشالو هېوادو په قطار کې شامل شي.

(۷ و ۸) کمونیزم و اسلام

تورن غلام سخی

زمانیکه داؤد خان از چوکی صدارت در موضوع خط دیورند از قدرت کنار رفت شاه محمود خان کاکایش به حیث صدراعظم تعیین گردید. داؤد خان آرام، آرام روابط خود را مخفیانه با حزب دموکراتیک خلق (خلق و پرچم) در تبانی با اتحاد جماهیر شوروی وقت برقرار نمود، خروسچف رهبر حزب کمونست وقت شوروی از موضیع گیری داؤد خان در قبال دیورند لاین دفاع نمود و خواستار روابط دوستانه و همکاری متقابل با افغانستان گردید. فروسچف با الفاظ تهدید آمیز عمل خشونت بار پاکستان را در قبال خط دیورند تقبیح نمود، در همین شرایط بود حزب کمونیست شوروی خواستار یکتعداد از جوانان افغان غرض تحصیل به شوروی گردید که به تعداد (۲۰۰) نفر از محصلین افغانی بخاطر تحصیل در رشته های مختلف نظامی رهسپار شوروی گردیدند.

روسها با دادن صدها میل اسلحه مختلف النوع، زرهپوش ها، توپ های زمینی، توپهای دافع هوا، چند عدد طیاره روابط خود را بیشتر با حکومت شاهی وقت محکمتر ساخت.

محصلین افغانی بعد از ختم تحصیل به وطن شان عودت نمودند، دولت شاهی افغانستان آنها را در قطعات نظامی در پست های مختلف جابجا نمودند، از اینکه حزب دموکراتیک (خلق و پرچم) با داود خان روابط نزدیک داشتند و در همکاری با هم اوضاع سیاسی و اقتصادی افغانستان را تحت نظر خود داشتند و حلقه غیر سیاسی داود خان را که متشکل از چند نفر خورد ضابط، افسر و افراد ملکی چند بیش نبودند تحت تاثیر شعارهای تند و تیز ببرک کارمل رهبر پرچمی ها و افکار نظریات مارکیستی قرار گرفته بودند زمانیکه تقابل دو اندیشه (اسلام و کمونیزم) در دانشگاه پوهنتون کابل آغاز گردید، نهضت جوانان مسلمان از طرف مؤسسین نهضت اسلامی پایه گذاری شد جوانی با قد رسا و قامت مقاوم با دادن شعارهای ضد کفری پرچم سبز جوانان مسلمان را در اهتزاز درآورد. جوانهای رشید در حلقه پنج نفری وی قرار گرفتند و جوانان مسلمان و دلیر دیگر هر روز صفوف شان را مزین میساخت، با دیدن چنین وضعیت ناهنجار، ذبونانه و عجولانه و با ترس از اینکه دولت اسلامی قوی و جدید در همسایگی شان ایجاد نشود و افکار مارکیستی، لیننی تحت ضربات شدید اندیشه اسلامی قرار نگیرد و در همسایگی افغانستان سرزمین های محکوم اسلامی آسیایی میانه از زیر یوغ استکبار و استعمار روس نجات پیدا نکند دست به توطئه زده و بواسطه عمال و جواسیس خویش در درون دولت شاهی رخنه نموده، زمینهء کودتایی (۲۶) سرطان را به نام جمهوریت مساعد ساختند همان بود که داؤد به تخت سلطنت تکیه زد و به گرفتاری جوانان مسلمان اقدام نمود، که در قدم اول جوان رشید و فرزند فرزانه افغان انجنیر حبیب الرحمن بلبل مرغزار نهضت اسلامی را به بهانه براندازی نظام گرفتار به شهادت رسانید. دیری نگذشت جوانان دیگر را به بهانه قیام علیه نظام چون داکتر عمر شهید، خواجه محفوظ منصور و مولوی صاحب حبیب الرحمن را که قائیدین نهضت سلامی بودند به شهادت رسانیدند.

صراع کفر و اسلام هر روز شدیدتر می شد و طرفداران هر دو مفکوره به میدان رزم

میرفتند تا اینکه سپاه ایمان بر لشکریان کفر غالب آمده، بارقه امید فضای میهن ما را فروزان می نمود با دادن قربانی ها و تحمل شهادت ها بالاخره فرزندان راستین و مدافعان دلیر اسلام دشمن زبون را با هواداران با تمام طاقت و قوا از افغانستان راندند و دیری نگذشت که منادیان لشکر طاغوت هم به شکست مفتضحانه مواجه گردیدند. بیرق اسلام بر تارک ارگ کمونیستی در اهتزاز درآمد، ولی در چنین شرایط لشکریان کفر که ندای حورا می کشیدند با قامت خم و سرافگنده به تسلیمی حاضر شدند که اینروز روز پنجم ثور سال ۱۳۷۱ بود از هر گوشه و کنار مملکت صدای کفرشکن الله اکبر در فضای میهن ما طنین افگنده بود، کمونیستها از طریق هوا و زمین پا به فرار نهاده بودند دیگر مجال مقاومت در برابر سنگر نشینان مؤمن را نداشتند. مگر با تاسف در چنین حالت که آفتاب عظمت و کامیابی در دامنه های کوهساران وطن ما نور می افگند، توطئه گران ملی و بین المللی دست با هم داده و نخواستند که دولت اسلامی که در آن حدود شرعی نافذ گردد ایجاد می گردید. عوامل ملی و بین المللی در صدد آن شدند که نگذارند که حکومت مجاهدین بنیاد قوی پیدا کند. همان بود که؛ توطئه ها کارگر افتید، پرچمداران و وارثان تاج و تخت دولت اسلامی که تا دیروز به اساس فریضهء جهاد با کفار و ملحدین می جنگیدند امروز به توطئه و حمایهء آنها دهن توپ و تانک را در مقابل هم قرار دادند بقایایی رژیم کمونیستی بخاطر نجات جان و مال شان در کنار دوستان مسلمان خویش قرار گرفتند و خود را در حمایه دوستان مسلمان خود یافتند. نخواستند که پیروزی دولت اسلامی را بپذیرند، میخواهستند روز فتح پیروزی را روز هفتم ثور قرار بدهند تا با استفاده از آن به کودتای شان ارزش قایل شده و مسلمانان ساده لوح و فاقد رسالت را بدام بیندازند و از این روز بمشابه روز پیروزی مسلمانان تجلیل نمایند. همان بود که همه زیربناهای این وطن دوست داشتنی با تمام آثار و آبدات تاریخی آن دستخوش جنگها و کشتار بیرحمانه ملت ما قرار گرفت. که با گذشت زمان هم از زمانه کسی پند نگرفت، باز هم به رقابت چوکی و قدرت برآمدند از همین وضع دشمنان ملی و بین المللی استفاده نمودند، جهاد را بدنام ساختند و حتی برای بقایای رژیم کمونیستی زمینه را مساعد ساختند، تا در مقابل هم از مفکوره واهی و غیر انسانی شان در برابر مسلمانها دفاع کنند، طوریکه دیده می شود بیشرمانه بدون پند از گذشته با زبانهای رسا و جرئتمندانه از رژیم های کمونیستی دوران حیات شان دفاع مینمایند. حتی بطور علنی در پارکها و موترها فوتوهای رهبران شان را به نمایش میگذارند. اگر ما در چنین وضعیت خواب غفلت قرار داشته باشیم. ممکن است در انتخابات آینده کشور ما نیز موفق شوند و ما در رقابت و جنگ قدرت نتوانیم به هیچ موقف برسیم. اگر معقولانه نیندیشیم ممکن است با چنین وضعیت اسف بار نتوانیم به اهداف خویش نایل آئیم ودشمنان دین و وطن به آنچه می خواهند برسند.

بیائید دشمنی ها را کنار بزنیم، رقابت های گذشته را پشت پا کنیم، معقولانه بیندیشیم تا با وحدت و یکپارچگی بتوانیم بر نکبت جنگ و خونریزی در این وطن پایان بدهیم و درفش صلح و آزادی را به اهتزاز درآوریم.

مړه يې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

شهید انجنیر بشیر احمد (شهادتیار)

امیر جهاد ولایت تخار و رئیس شورای حوزه شمال شرق حزب اسلامی افغانستان

ترجمه: ((گمان مبرید آنانیکه در راه خداوند (جل جلاله) کشته شده اند مرده گانند بلکه زنده و جا ویدانند و در نزد پروردگارشان روزی داده میشوند)) (آل عمران: ۱۶۹)

درسال ۱۳۳۵ هجری شمسی در خانواده الحاج صاحب جان طفلی بدنیا آمد که از سیمایش نور دیانت و شجاعت میدرخشید که اسم ویرا شعیب الله گذاشتند که بعدها در جریان جهاد مقدس ملت مسلمان افغانستان به انجنیر بشیر احمد (شهادتیار) مشهور گردید.

انجنیر بشیر احمد (شهادتیار) دوران ابتدائیه مکتب را در ولسوالی چاه آب ولایت تخار،دوره متوسطه را در ولسوالی امام صاحب ولایت کندزودوره، لیسه را در مرکز ولایت کندز به اتمام رسانیده و بعد از اتمام دوره لیسه شامل دانشکده انجنیری کابل شد.

مراحل ابتدائی تحصیلش در دانشکده انجنیری کابل هنوز به پایان نرسیده بود که مزدوران کرملین به کمک باداران ملحد روسی شان طی یک کودتای عسکری قدرت سیاسی افغانستان را بدست گرفتند. چون شهادتیار شهید دیگر شرایط تحصیل و زندگی را در محیط دانشگاه کابل بخود تنگ دید نا گزیر در جوزای سال ۱۳۵۷ بطرف پاکستان هجرت نمود و بعد از گذشتاندن چند ماه در پشاور و اخذ دساتیر لازم از مقام رهبری جهاد به قصد انجام عملیات های چرکی شهری طوری مخفی وارد کابل گردید. پس از سپری نمودن مدت کمی در کابل وارد ولایت بغلان شده و بعد از اجرای چندین عملیات چریکی در ساحات مختلف این ولایت (بغلان) وارد مرکز تخار (تالقان) شد که با ورودش به این شهر از طرف مزدوران ملحد تحت تعقیب قرار گرفت، توسط دستگاه استخباراتی ملحدین دستگیر و روانه زندان تالقان گردید. در مدت ٤۰ روز در زندان تالقان نامبرده با تحمل شکنجه و آزار زیاد از افشاً رازهای مهم جهادی خودداری ورزید، پیوسته در قبال اهداف الهی خود ثابت و پایدار مانده به خواست اجنت ها گوش بفرمان روس تسلیم نگردید.

همان بود که دشمن ملحد او را به گمان اینکه شاید بعد از رهائی از زندان مسیر مبارزه اش را تغییر دهد، از حبس آزادش نمودند. البته متصل رها شدن از زندان کمونیستها، به همکاری عده برادران به ولسوالی اشکمش شتافته عملاً به تأسیس یک جبهه نیرومند بنام جبهه (سعد) اشکمش پرداختند. از طریق همین جبهه عملیات متعددی را که اکثراً به موفقیت انجامیده است اجرا کردند که از جمله فتح آمریت معدن تاقچه خانه (تالقان)، فتح علاقداری چال، فتح علاقداری سیاب و بنگی، فتح علاقداری برکه ولایت بغلان و فتح ولسوالی و فرقه نهرین ولایت بغلان را می توان بر شمرد. شهادتیار شهید در مدت سه سالیکه در ولسوالی اشکمش قرار داشت عملیات متعددی را رهبری می کرد، که در پی آن تلفات وضایعات بیشماری به دشمن وارد آورده، ده ها عراده وسایط نقلیه دشمن منهدم و صدها نفر آنان به کیفر اعمال شوم شان رسانیدند.

انجنیر بشیر احمد (شهادتیار) در سال ۱۳۵۹ جبهه توحید ولسوالی چاه آب را اساس گزاری نمود که بعدها مرکز فرماندهی اکثر جبهات تخار بشمار می رفت.

موصوف در خزان سال ۱۳٦۰ با کاروان از مجاهدین وارد پاکستان گردید و بعد از اخذ هدایات لازم از مقام رهبری جهاد اکمال و تجهیز مجاهدین زیر قیادتش دوباره وارد سنگرهای غرور آفرین تخار شد. که بلا درنگ عملیات مسلحانه خویش را بالای لانه های ملحدین شدت بخشید که به اثر همین فعالیت و پشت کارش، نزد دشمن منحیث یک شخصیت آشتی نا پذیر شناخته شد. نا گفته نماند که شهادتیار شهید ضربات کاری و مرگباری را به عناصر ستمی وارد نموده و در سرکوبی آنها از کار برد هیچگونه وسائل مضایقه نکرده است که به همین دلیل خلقیها، پرچمیها و سازائیها و سفزائی ها او را خطر ناک ترین دشمن اهداف شوم خود در منطقه تلقی میکردند.

در تابستان سال۱۳٦۳ در اثر عملیات وحشیانه روسها که مستقیماً از آن سوی آمو (شوروی سابق) سوق و اداره میشد. بعد از یکماه مقاومت بی سابقه و وارد نمودن تلفات جانی و مالی به روسها و با شهادت عده، از مجاهدین مربوط اش عازم پاکستان گردید. این بارهم طبق سابق بعد از توقف کوتاه و بدست آوردن تجهیزات لازم دوباره وارد منطقه گردیده شروع به پاکسازی و تصفیه عناصر ملحد نمود که بفضل خداوند (جل جلاله) توانست مناطق ازدست رفته جبهه تحت قومانده اش را دوباره پاکسازی و فتح نماید مراکز و قرارگاه های نظامی خویش رادر آن دیار استحکام ببخشد. شهید شهادتیار از جمله عملیات مهم ایکه به کمک مجاهدین مناطق مختلف کشورمان انجام داده است میتوان از عملیات زمستان سال۱۳٦۳ بالای ولسوالی سرکانی و مرکز چغه سرای ولایت کنرها که در نتیجه ان عده زیادی افراد دشمن رهسپار جهنم گردید و تعدادی از تأسیسات ووسایط جنگی دشمن از میان برده شد. همچنان در بهار سال۱۳٦٤ عملیات بزرگی را بالای غند چمکنی ولایت پکتیا به همکاری مجاهدین منطقه انجام داد که در نتیجه آن تلفات زیادی به دشمن ذبون وارد آمد. عملیات بالای قرار گاه مرکزی روسها در لوگر به کمک مجاهدین آن خطه در تابستان سال۱۳٦٤ که منجر به ازبین رفتن از افراد آنها و وسایط جنگی شان گردید در زمره شهکاری ها و مجاهدتهای شهادتیار شهید به حساب می آید.

در خزان سال ۱۳٦۵ عملیات وسیعی را به همکاری مولوی صاحب خردمند شهید امیر جهاد بدخشان و شهید استاد عبدالودود بالای قرار گاهای روسها واقع در میدان هوای بدخشان و دشت قرغ انجام داد که توسط آن تلفات زیادی به روسها وارد گردیده بیشتر از شصت عراده تانک و ده ها عراده وسایط نقلیه دشمن طعمه حریق گردید.

شهادتیار شهید باز هم در تابستان سال ۱۳٦٦ با یک کاروان از مجاهدین مربوط اش وارد پاکستان گردید و بعد از گذشتاندن مدت یکسال در پشاور و اخذ تسلیحات لازم وارد تالقان مرکز ولایت تخار شد و به همکاری سایر جبهات جهادی آنجا مرکز ولایت را فتح و تمام مراکز و غندهای گروهک ستم ملی (سازاو سفزا) را به تصرف خویش در آوردند.

بعد از فتح تخار شهید شهادتیار رهسپار ولایت کندز گردید و بعد از عملیات بالای میدان هوای کندز و سائر مراکز نظامی دولت مزدور که تلفات زیادی به دشمن وارد آمد دوباره به تخار بر گشت و به تنظیم و رهبری مجاهدین این ولایت پرداخت. باعودت از عملیات بالای میدان هوای کندز و سائر حصص نظامی آن ولایت مجدداً بالای مراکز صمدوف مربوط باند سازا و سفزا عملیاتی را تدارک دید که طی آن تلفات زیادی به دشمن وارد آمد.

در زمستان سال ۱۳٦۸ هـ ش بار دیگر با عده از مجاهدین خویش عازم پاکستان گردید و بعد از اکمال و تجهیز لازم وارد منطقه شده، در فتح ولسوالیهای خواجه غار، دشتی قلعه و ینگی قلعه از وجود جرثومه های شرو فساد نقش فعال و رهبری کننده، را ایفا نمود که طی آن تمام لانه های گروهک ستم ملی ویران و مجاهدین در آندیار مسلط گردیدند.

شهید (شهادتیار) با بدست آوردن این فتوحات و پیروزیها وارد زادگاه اش چاه آب گردید، اینجاست که دشمنان اسلام ومزدوران کوردل وازخدابیخبرانها فتوحات و پیروزی های او را تحمل نتوانسته شروع به توطئه چینی و اختلاف افگنی درمیان مجاهدین منطقه نمودند که نشانه این توطئه دشمن کارگر افتید.

شهادتیار شهید به منظور جلوگیری از ایجاد فتنه ها و درگیریها میان مجاهدین، چاه آب را به سوب بدخشان ترک گفت و بعد از سپری نمودن ده ماه در بدخشان در پنجم ماه ثور ۱۳۷۱ حینیکه میخواست عازم ولایت کندز گردد در مسیر راه در منطقه رستاق در کمین مزدور های کوردل قرار گرفت و به شهادت رسید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

قابل یاد آوریست که شهادتیار شهید در پهلوی مساعی داعیانه و مجاهدانه اش در عرصه های نظامی در بعد فرهنگی و فکری جهاد نیز عمیقاً بذل توجه نموده و به منظور انعکاس خواسته های مجاهدین خفته در سنگرهای جهاد، نشریه را بنام (شاهد) تأسیس نموده بود که تا لحظه شهادتش بدون وقفه در شهر پشاور پاکستان انتشار می یافت. شهادتیار مجاهد بود که نام پاکش برای همیش در لوح خاطرات مجاهدین ورزم آوران جان نثار افغانستان زنده و باقی خواهد ماند.

(روحش شاد و یادش گرامی و مستدام باد)

دثور ۷ مې کودتا د يو لړ شاندارو مراسمو په ترڅ کې وغندل شوه

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... چې دغونډې ګډونوالو ته يې دهر کليزې وينا ترخنګ دثور د اوومې او دهغه وخت د مستبد نظام پروړاندې يې دمجاهدينو په کارنامو او سربښندنو عالمانه وينا وکړه. استاد دنورو خبرو ترڅنګ دمجاهدينو ترمنځ بې يووالي او همغږی ټينګار وکړ او په روانو حالاتو کې يې مجاهدين تر نورو وختونو زيات مکلف وګڼل.

په ياده غونډه کې دنورو ويناوالو ترڅنګ دننګرهار د ولايتي شورا وکيل ډاکټر لال محمد دراني، دننګرهار پوهنتون استاد عبدالهادي عاصم، مولوي ضياءالله، استاد عبدالکريم، دننګرهار پوهنتون استاد عبدالرحمان مشفق، دعلماو د شورا مشر مولوي فضل الرحيم، او د محصلينو نماينده طيب الله ويناوې وکړې غونډه دقاري سيد محمد په دعائيه پاى ته ورسيده.

د علم او عرفان يوه بله ...

او بشري علومو پوهنځی په تاريخ ځانګه کې شامل شو، تردوه کلنی زده کړې وروسته يې دليسانس برى ليک واخيست اوتر فراغت وروسته په ترتيب سره په ايمل خان اوننګرهار ليسو کې دتدريس وياړ ور په برخه شو، څه موده يې دکورنيو چارو په وزارت کې په خدمت تيره کړه اوبيا چې کله دثور دبدمرغې کودتا سيلی پرهيواد راغله اودهيواد دخوږې اوتودې غيږې په پريښودو دهجرت دلارې دانتخاب خبره شوه، نو ارواښاد استاد وسيع الله سيار د۱۳۵۸ل په نيمايی کې دهجرت لاره ونيوه خو دهجرت په ستونزمن ديار کې يې هم دخپلو مجاهدو ځوانانو دښوونې اوروزنې رسالت هير نه کړ. د دوی په تعليمي موسسو (سيدجمال الدين افغان ليسه ، امام اعظم عالي مدرسه او په تعليمي نصاب) کې پربوختيا سربيره يې له پيښور پوهنتون نه دپښتو ځانګې دماسټران ارتس (ايم اى) لوړ سند اوبريليک ترلاسه کړ، دهمدې وياړ په ترلاسه کولو سره يې د دعوت او جهاد پوهنتون علمي کدرته لاره وموند. هلته ترڅو کلن تدريس وروسته ، چې کله دعوت اوجهاد پوهنتون له کابل پوهنتون سره ګډ شو ، استاد سيار دوياړ همغه شمله دلته هم پر سرراوړه اودژبو ادبياتو پوهنځي په پښتوځانګه کې په ښوونه بوخت شو چې تر وروستي شيبې همدې وياړ دپوهندوی دعلمي رتبې کچې ته ورساوه.

داستاد د شاګردانو، همقلمو اوهمسنګرو استادانو مينه ګواه ده چې استاد د خپل ځوان کول له علمي لوړتيا سره څومره ليونی مينه درلوده، د دغو ښاغلو دزړونو پرتخته به داستاد سيار ليکلي يادونه اودعلمي اواخلاقي خاطرو دفتر خوندي وي، ځکه په دې باب به دزياتو بيلګو وړاندې کول اړين نه وي. او بالاخره د ارواښاد استاد وسيع الله سياره دژوند ډيوه ترپينځه مياشتنی مرګوني رنځنوری وروسته د۱۳۹۲ دثور په ۳ مه د سه شنبې په مازديګر پنځه بجې د الهي قضا په پوکي مړه شوه.

انا لله و انا اليه راجعون

ارواښاد استاد سيار ستاسې په دې نيمګړې دنياګی کې درې تنکي زامن اوشپږ لونې دوير پرتغر ويرمن پريښودل اروا يې ښاده ، سفر يې خوشاله اوياد يې تاند اوسه. آمين

په کونړ ولايت کې د حزب...

دحزب اسلامي دولايتي دفترد ښه انسجام او پرمختګ لپاره يوه پنځوس کسيزه شورا جوړه کړه اوبيايی دشورا دغړو ترمنځ دولايتي دفتر دمشر ی لپاره ټاکنې وکړې اوترڅنګ يې دحزب اسلامي دښځو سازما ن لپاره هم يوه شپاړس کسيزه شورا جوړه او مشره ورته وټاکله.

په کونړولايت کې د شهادت همکار خبرراکوي چې پدې ټاکنو کې حاجي نصرالله صافی ولايتي مشر، مولوي رحيم الله عاصم مرستيال او انجنير شيرعلي سالارزی دمنشي په توګه دراېو په اکثريت وټاکل شول، او همدارنګه دکونړ دولايتي شورا وکيله توراج بي بي په کونړ ولايت کې دحزب اسلامي دښځو چارو دمشرې په توګه وټاکل شوه چې دوروڼو لخواو رته دپوره ملاتړ اوهمکارۍ ډاډ ورکړ شو، کونړ ته تللي پلاوی په هغه غونډه کې هم برخه واخيسته چې دشهيدمولوي محمد هاشم منيب د شهادت د کليزې په مناسبت جوړه شوې وه او په سلګونو مجاهدينو ، کونړميشتو حزبيانو اودولتي چارواکو پکې برخه اخيستې وه په ياده غونډه کې دحزب اسلامي دپلاوي مشر الحاج مدير سيد رحمان واحديار دخپلې عالمانه وينا ترڅنګ دحزب اسلامي دمرستيال انجنير محمدخان پيغام هم ولوسته او دکونړ خلکو ته يې د اتل شهيد مولوي محمد هاشم منيب په کارنامو او سربښندنو رڼا واچوله.

د هغه رنګ سوتاسي غوره امت ګرځولي ياست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

ورځپاڼه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه ستردېږي ـ يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ډيزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر پلاکونو شاته، خوشال خان مېنه ـ کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

په افغانستان او پاکستان کې مرګوني حملې زياتې شوي

والسټريټ ژورنال ورځپاڼې په افغانستان او پاکستان کې د وروستيو شخړو په اړه يومطلب خپور کړی او د پيل په کرښو کې ليکي، په افغانستان او پاکستان کې مرګونې حملې په داسې حال کې زياتې شوي چې دواړه هېوادونه سياسي انتقال ته چې ډېرمهم دی، تياری نيسي.

پاکستان چې د مې په مياشت کې عمومي انتخاباتو ته تياری نيسي په تېروخوورځو کې د خونړيو بريدونو شاهدواو افغان طالبانو هم په افغانستان کې د پسرلنيو عملياتو له پيلېدو سره حملو ته زورور کړی دی.

والسټريټ ژورنال ليکي، په سيمه کې شخړې په داسې حال کې زياتې شوي چې د مې په يولسمه نېټه په پاکستان کې عمومي انتخابات ترسره کېږي چې؛ په نتيجه کې بې ښايي يوملکي حکومت جوړ شي او د افغانستان حکومت د امريکا په مشرۍ له نړيوالو ځواکونو څخه د بشپړ مسووليت اخيستو ته ځان تياروي.

د ورځپاڼې په وينا پاکستاني طالبانو په وروستيو خونړيو حملو کې چې دوی يې مسوليت په غاړه اخيستی هغه سياست وال او سياسي ولې په نښه کړي چې سيکولرياغيرمذهبي بلل کېږي.

دغه تاوتريخوالی د پاکستان د دريو لويو سياسي ګوندونو انتخاباتي مبارزه له ستونزو سره مخامخ کړې ده. د پاکستان عوامي نشنل ګوند، د پاکستان پيپلز ګوند او متحده قومي غورځنګ چې تيرايتلافي حکومت يې جوړ کړی و.

د والسټريټ ژورنال په وينا پاکستاني طالبانو په خيبرپښتونخوا کې چې د پاکستان عوامي نشنل ګوند حکومت کاوه او قبايلي سيمو کې د دغه ګوند پر کانديدانواو د هغوی پرانتخاباتي کمپاينونو ډېرې حملې کړې چې د دې ګوند د فعالانو په ګډون يې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

د پاکستان د انتخاباتو کميسيون د دغو حملو پردوام انديښنه څرګنده کړې او ويلي يې دي چې پر کانديدانو، د هغوی پرفعالانو او انتخاباتي کمپاينونو حملې د جدي انديښنې وړ دي.

والسټريټ ژورنال ليکي، په افغانستان کې چې طالبانو لکه د تل په څېرد هوا په توديدو سره حملو ته زورور کړی سږ پسرلی يې هم د عملياتو پيلېدو اعلان کړی دی. د ورځپاڼې په وينا داخل د دغو عملياتوا همېت په دې کې دی چې په دې حملو سره د افغان امنيتي ځواکونو وړتيا ازمويل کېږي.

په پام کې ده افغان امنيتي ځواکونو د جګړې د توديدو په فصل کې له بهرنيو ځواکونو د امنيتي چارو بشپړمسوليت ترلاسه کړي.

بريتانوی ډېلي ټېلګراف ورځپاڼې د هغه بريتانوي عسکر په اړه يوه مقاله خپره کړې چې په هلمند کې د پوځي خدمت په ترځ کې يې د کرهنې په برخه کې خپل مهارتونه له ځايي بزګروسره شريک کړي دي.

د ورځپاڼې په وينا ۴۲ کلن جو نيکالسن چې په بوکينګهمس کې پخوا بزګروپه هلمند کې بزګرو ته ورزده کوي چې په څه ډول د کوکنارو د کرلوپرځای بديل محصولاتوته مخه کړي.

د ورځپاڼې په وينا نيکالسن چې د خدمت موده يې په ختمېدوده د هغومېوو اوسبزيجاتو په اړه څېړنه کړې چې د هلمند خلک کولای شي د امنيت له ښه کېدوسره ورته مخه کړي او د کوکنارو پرځای يې رواج کړي.

د هلمند ولايتي دفتر کې ...

...غونډه د قرآن عظيم الشأن په تلاوت د سهار ۹ بجې پيل او تر دولسو بجو پورې يې دوام وکړ او دلاندې پرېکړه ليک په صادرولو پای ته ورسيده:

۱– حزب اسلامي افغانستان په هېواد کې د سوچه اسلامي اصولو تطبيق او نفاذ غواړي.

۲– حزب اسلامي افغانستان دهغو خلکو محاکمه غواړي د چا چې لاسونه دمسلمانانو په وينو ککړ دي.

۳– حزب اسلامي افغانستان د افغانستان د اسلامي جمهوريت له ادارو څخه د ثور د کودتاچيانو د عاملينو او پيروانو شړل غواړي.

۴– حزب اسلامي افغانستان په ګران هېواد کې اوسنی ټولې ناخوالی او بدمرغی د ۱۳۵۷ ل کال د ثور د (۷مه) د کرغېړنې کودتا لامل او زېږنده بولي او پر پيروانو يې نفرين وايي.

۵– حزب اسلامي افغانستان په تعليمي مؤسساتو او مکاتبو کې د تعليمي نصاب د لا ښه اسلامي کولو لپاره د اسلامي دولت او حکومت توجه غواړي.

۶– د وران او ويجاړ هېواد د ښه سمسورتيا لپاره د بيا جوړونې هلې ځلې د حزب اسلامي افغانستان دجدي غوښتنو څخه دي.

۷– حزب اسلامي افغانستان د اسلامي دولت د يووالي او اسلامي ملي پيوستون پوره ملاتړ کوي.

۸– حزب اسلامي افغانستان د خپل ګران هيواد د وړاندې تګ لپاره د زراعتي سکتور د ودې لپاره غوښتنه کوي.

۹– حزب اسلامي افغانستان د کفر او الحاد په مقابل کې د جهاد د ټولو شهيدانو روح ته رحمتونه لېږي او د اسلامي دولت څخه د معيوبينو درناوی او دهغوی دحقوقو اعاده غواړي.

۱۰– حزب اسلامي افغانستان په مطلقه توګه د اداري فساد ختمول غواړي.

۱۱– حزب اسلامي افغانستان د هيواد په داخلي چارو کې د پردو خصوصاً همسايه ګانو لاس وهنې په کلکه غندي او د ټولې نړۍ له هېوادو څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان د خپلواکۍ او خمکنۍ بشپړتيا پوره درناوی وکړي.

۱۲– حزب اسلامي افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د محترم وزارت څخه په ټينګه غوښتنه کوي چې په ملي او شخصي رسنيو کې د غير اسلامي او غيراخلاقي خبرونو مخنيوی وکړي.

۱۳– حزب اسلامي افغانستان د ښځو د اسلامي حقوقو درناوی کوي او د تعليم په برخه کې د دوی د اسلامي حجاب او خاصو شرعي شرايطو د برابرولو غوښتونکې دي.

استخبارات بريتانيا هم به دفتر ...

و حتی نتيجه، معکوس هم در قبال داشته است.

روزنامه گاردين می نويسد، پول های تحويل داده شده از جانب اداره، استخبارات بريتانيا نسبت به پول هايکه از طرف اداره، استخبارات امريکا تحويل داده شده است، کمتر بوده، اکثراً اين پول برای تمويل ابتکارات صلح داده شده که تا اکنون بی نتيجه ثابت شده است.

يما ترابی مدير نظارت از شفافيت در افغانستان می گويد، صدای کم رنگ رياست جمهوری افغانستان در پاسخ به گزارش ها در مورد اين پول ها، باعث خشم مردم شده است.

آقای ترابی می گويد:

«تا زمانيکه تحقيقات جدی صورت نگيرد، ما نمی دانيم ، چه مقدار پول گرفته شده و به چه منظور به صرف رسيده است.»

سيدخليل رومان که از سال ۲۰۰۲ تا ۲۰۰۵ ميلادی به حيث معاون رييس دفتر حامد کرزی ايفای وظيفه کرده است و در مورد پول های رسيده به دفتر رياست جمهوری افغانستان با روزنامه، نيويارک تايمز صحبت کرده است، می گويد، هدف وی سی. آی. ای. نبوده، بلکه پول های بوده است که توسط ايران به دفتر رياست جمهوری داده می شد.

خليل رومان به روزنامه نيويارک تايمز گفته است: .

«ما اين پول ها را پول ارواح می ناميديم، به اين معنی که مخفی می آمد و مخفی مصرف می شد.»

منابع آگاه در کابل به روزنامه گاردين گفته اند، مقام کليدی که در تقسيم يا توزيع پول در شورای امنيت ملی افغانستان دخيل بوده، ابراهيم سپين زاده، يا انجنير ابراهيم يک راز دار نزديک حامد کرزی است.

ديپلومات ها در کابل به روزنامه، گاردين گفته اند، پول های که از طرف CIA پرداخت شده، بعضاً اختلافات را ميان شعبات امريکايی در کابل ايجاد کرده و به امر اداره، استخبارات CIAدر کابل کمک کرد، تا بدون اطلاع يا اجازه، سفير امريکا در کابل، مستقيماً به حامد کرزی دسترسی داشته باشد.

يک مقام سابق وزارت ماليه، افغانستان به روزنامه گاردين گفته است:

" پولی که به اداره، استخبارات افغانستان داده می شد، بروی کاغذ بسيار کم است، ولی ما می دانستيم که اداره، استخبارات امريکا به اصطلاح غم آن ها را جداگانه می خورد. "

منابع آگاه به روزنامه گاردين گفته اند، کمک های MI6بريتانيا به مقياس پول که از طرف اداره، CIAامريکا داده می شد کم بود. پول اداره، استخبارات بريتانيا اکثراً در مجالس درجهت تلاش های صلح ميان حکومت کرزی و وساطت کننده گان طالبان متمرکز بود که اکثراً بی نتيجه بوده است. چنانچه اداره، MI6بريتانيا در سال ۲۰۱۰ميلادی يک تن را به فکر اينکه رهبر طالبان است، برای مذاکره به کابل آورد، در حاليکه اين شخص يک دکاندار فريب کار از شهر کويته، پاکستان بود.

سعيدي: د طالبانو نوي عمليات ...

چې فکر يې دې وي چې په افغانستان د جګړې نوی فصل پيلېږي.

دې دولتي چارواکي وويل چې د طالبانو له خوا د خالد بن وليد په نوم د نويو عملياتو د پيلولو اعلان د کيانې له دې ګواښ سره تړلی دی.

طالبانو د خپلو نويو عملياتو په اړه په يوې اعلاميې کې ويلي چې د ثور له اتمې نېټې د خالد بن وليد په نوم پيل شويو عملياتو کې به په افغانستان کې دولتي او نړيوال اهداف په نښه کړي.

د افغانستان پاکستان او امريکا متحده ايالاتو درې اړخيزه غونډه تيره اونۍ وروسته له هغې په بروکسل کې وشوه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې خرابې شوې.

دغه درې اړخيزه غونډه د امريکا د بهرنيو چارو د وزير جان کيري په کوربه توب وشوه.

په دې غونډه کې د افغانستان د سولې په پروسې کې د پاکستان په همکارۍ او د ننګرهار په ګوشتې ولسوالۍ کې د ډيورنډ د کرښې په اوږدو کې په وروستيو جنجالونو خبرې وشوې.

د سياسي چارو ځينې افغان کتونکي هم د طالبانو نوي عمليات د پاکستان د لوی درسټېز له ګواښ سره تړلي بولي.

ښاغلي سعيدي وويل چې پاکستان له افغانستان څخه يو شمير مشخصې غوښتنې لري او تر څو چې هغه ونه منل شي د سولې په پروسه کې به همکاري ونه کړي.

نوموړي دغه غوښتنې د ډيورنډ د کرښې په رسميت پېژندل، د افغانستان له خوا د کنړ له اوبو څخه ګټه نه اخيستل او له پاکستان سره د ستراتيژيکو همکاريو د سند لاسليک کېدل وبلل، چې دده په وينا د افغانستان دولت يې ورسره نه مني.

د افغانستان دولت تل ويلي چې پاکستان دې د افغانستان د سولې له پروسې سره عملي مرسته وکړي، د طالبانو دويمه درجه مشر ملا عبدالغني برادر دې خوشې کړي اوپه خپلې خاورې کې دې د طالبانو د روزنې مرکزونه له منځه يوسي.

که څه هم په دې وروستيو کې له امريکا سربيره بريتانيا هم هڅې وکړې چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړيکې ښې شي خو تراوسه پورې دغه منډې تړړې بې نتيجې برېښي.

قانون تشکيل و صلاحيت های ...

اعضای شورای همکاری احزاب و ايتلاف های سياسی افغانستان به روز سه شنبه در يک نشست خبری با صدور اعلاميه، دو خواست را از رييس جمهور کرزی مطرح نمودند. توشيح قانون تشکيل و صلاحيت های کميسيون مستقل انتخابات و پايان دادن به معضل رييس و برخی از اعضای ستره محکمه که دوره، کاری آنان به پايان رسيده است.

سيد علی رضوانی يک عضو شورای همکاری احزاب و ايتلاف های سياسی افغانستان اين اعلاميه را به خوانش گرفت:

"توشيح هرچه زودتر مصوبه، مجلسين شورای ملی در مورد طرح قانون، تشکيل وظايف و صلاحيت های کميسيون مستقل انتخابات و شکايات انتخاباتی که بعد از تصويب به رياست جمهوری فرستاده شده است.

ادامه، کار رييس و بخشی از رهبری ستره محکمه که دوره، ماموريت آنان مطابق به حکم صريح قانون اساسی به پايان رسيده است، خلاف قانون می باشد. شورای همکاری احزاب و ايتلاف های سياسی افغانستان از رييس جمهوری می خواهد تا هرچه زودتر به اين روند غير قانون پايان دهد. "

اعضای شورای ملی افغانستان پس از ماه ها بحث روی طرح قانون تشکيل و صلاحيت های کميسيون مستقل انتخابات حدود دو هفته پيش اين قانون را تصويب و به توشيح رييس جمهور فرستادند. اعضای هر دو مجلس در خصوص حضور و يا عدم حضور دو عضو خارجی در کميسيون شکايات انتخاباتی اختلاف نظر داشتند.

اما سر انجام کميته، مختلط ولسی جرگه و مشرانو جرگه که به اين منظور تشکيل شده بود، روی حذف اعضای خارجی در اين کميسيون به توافق رسيد. از سوی ديگر رييس و پنج عضو شورای عالی ستره محکمه حدود سه سال پيش در جريان جنجال های انتخابات ولسی جرگه از سوی نماينده های مردم در مجلس سلب اعتماد شدند.

پس از آن اين افراد به عنوان سرپرست در اين پست ها توظيف شدند. در ماه جوزای سال گذشته عبدالمالک کاموی رييس سابق اداری قوه، قضاييه، ستره محکمه و سرور دانش سرپرست پيشين وزارت تحصيلات عالی به عنوان نامزدان شورای عالی ستره محکمه به ولسی جرگه معرفی شدند.

اما نماينده های مردم تنها برای آقای کاموی رای اعتماد دادند و آقای دانش موفق به کسب آرای وکلا نشد. با رياست جمهوری و اداره، امور افغانستان تماس گرفتيم اما کسی حاضر به گفتگو در اين زمينه نشد.

در سال ۱۳۹۲ نفوس افغانستان ...

اساس يک فارمول خاص معلوم کرده اند .

"به حساب ما نفوس فعلی افغانستان به شمول کوچی ها بيست و هفت و نيم ميليون است که از اين جمله ۵۱ در صد مردان و ۴۹ در صد زنان می باشند.

نفوس افغانستان که در ايران و پاکستان به سر می برد، در بر گيرنده اين بيست و هفت و نيم ميليون نفر نيست. "

اداره احصاييه مرکزی افغانستان می گويد که از سه دهه به اين طرف رقم نفوس اين کشور به طور تخمينی ارايه می شود و تا حال سرشماری دقيق صورت نگرفته است.

اين اداره نفوس تخمينی افغانستان در سال ۱۳۹۰ شمسی را بيست و شش و نيم ميليون تن اعلام کرده بود.

آقای غفوری گفت که اگر زمينه برای سرشماری عمومی در اين کشور فراهم شود، اين کار را خواهند کرد.

"احتمال دارد که در حدود صد ميليون دالر برای يک سرشماری سرتاسری ضرورت داشته باشيم و اين احتمال وجود دارد که اگر در شرايط حاضر بخواهيم اين عمل را انجام بدهيم و شرايط آماده باشد حتی کسانی هستند که اين کمک کنند.

دقيق نمی دانم که کی چقدر کمک خواهند کرد. از نظر مالی اين توانايی را نداريم، کشور های خارجی ممکن است که اين کار را کنند. "

اداره احصاييه مرکزی افغانستان طی يازده سال گذشته قادر نشده است که سرشماری دقيق را در اين کشور انجام دهد.

نا امنی ها و نبود منابع کافی مالی از عوامل عمده عدم راه اندازی سرشماری سرتاسری در افغانستان به حساب می آيد.

آگاهان امور روشن شدن رقم دقيق نفوس اين کشور را برای پلان گذاری و تنظيم برنامه های ادارات دولتی مهم توصيف می کنند.